Social Science AcademicJournal
لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# په اسلامي شریعت کې د تاجر ځانګړي صفات او مسؤلیتونه

عبدالرحمن اڅکزی
حقوق څانګه، حقوق او سیاسي علوم پوهنځی، ملالی لوړو زده کړو مؤسسه
د مسؤل آیمیل ادرس: lawyerabdullrahman@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۱۱/۱۴ منل سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۰۳ خپره سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-2-20 مخونه (۱۱۸-۱۳۴)

## لنډیز

په حقوقي لحاظ د کسب او پیشې په شکل د ګټې تر لاسه کولو په موخه د منقولو اموالو دوامداره رانیولو او خرڅولو ته تجارت ویل کیږي. د اسلامي شریعت او قانون له مخې هر څوک د تجارت کولو حق لري، خو دا یو مقید حق دئ. تجارت یو عزتمند مسلک دئ. د اسلامي شریعت پر اصولو برابر تجارت تر سره کول د اسلامي شریعت له خوا زیات ارزښت لرونکی بلل سوی او د دنیا او اخرت د رزق د زیاتوالي لامل ګڼل سوی دئ. خو دا هرڅه هغه وخت کېدای سي چې تجار د اسلامي شریعت په چوکاټ کې له مندرجو مسؤلیتونو څخه ځان خبر او هغه رعایت کړي. بناءً، دغه لیکنه د کتابتوني مېتود له مخې د تشریحي څېړنیز ډیزاین پر بنسټ ترسره سوې. د دې څېړنیزې مقالې موخې داووی چې اسلامي شریعت کې د تاجر ځانګړي صفات او مسؤلیتونه و پېژندل سي او د اړوند مسؤلیتونو د رعایت اړتیا روښانه سي چې یادو موخو ته رسېدلي یو. او په پایله کې یې هغه مسؤلیتونه چې اسلامي شریعت د تاجرانو له پاره پیش بیني کړي واضح سوي دي. لکه: د نېک نیت لرل، بازار ته د داخلېدو پر مهال مسنون اذکار ویل، نرم چلند او ښه سلوک، امانتداري او صداقت، پر ژمنه وفاء کول، په وزن او اندازه کې عدل او انصاف کول، د بېنېمانتیا په صورت کې د مال بېرته قبلول، له دوکې (حیله) ورکولو او غبن (تېر ایستنه) څخه ډډه کول، د قسمونو له اخیستلو څخه ډډه کول، له احتکار څخه ډډه کول، په مال کې د عیب پټولو څخه ډډه کول او داسي نور یې د تاجر مسؤلیتونه پیش بیني کړي دي چې باید رعایت یې کړي، تر څو تجارتي نظام صالح، منظم، مستحکم او باثباته پاته او د اسلامي اقتصاد رشد او پر مختګ ته زمینه برابر سي.

**کلیدي کلیمې:** تاجر، شریعت، صفات، مسؤلیتونه.

## سریزه

انسان نسي کولای چې خپلې ټولې اړتیاوې یوازې رفع کړي، نو اړ دئ چې له نورو سره د اجناسو د راکړې ورکړې په تړاو اړیکې ټینګې کړي. الله ﷻ د تجارت په هکله فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ.... ﴿النساء: ۲۹﴾. رسول الله ﷺ په صحابه کرام رضی الله عنهم و تجارت ته هڅول عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رسول الله

ﷺ : طَلَبُ كَسْبِ الْحَلاَلِ فَرِيضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ.(الطبراني، جـ ۱۰، صـ ۷۴، حديث نمبر ۹۹۹۳). همدې شغل ته تر صحابه وو وروسته نورو مسلمانانو هم پرمختګ ورکړ. د اسلامي شریعت له مخې هر څوک د تجارت کولو حق لري، خو دا یو مقید حق دئ. دا قیدیت له بېلا بېلو اړخونو مطرح کېدای سي. لکه؛ د تجارتي مال اړوند. مثلاً؛ د مخدره موادو، الکولي مشروباتو، غلامانو او داسي نورو تجارت د شریعت له نظره رواه نه دئ. د دولت د امنیت اړوند. مثلاً؛ د دولت له اجازه لیک پرته د سلاح او نظامي مهماتو تجارت. د تاجر اړوند. لکه؛ د درملو د تجارت له پاره د فارمسست شهادتنامه لرل، قانوني سن بشپړول او داسي نور.

## د خېړني اهمیت او ارزښت

تجارت عزتمند او ابرومند مسلک دئ. پر اصولو برابر تجارت تر سره کول د اسلامي شریعت له خوا زیات ارزښت لرونکی بلل سوی او د دنیا او اخرت د رزق د زیاتوالي لامل ګڼل سوی دئ. الله ﷻ فرمایي: وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا. ﴿البقرة: ۲۷۵﴾. همدا راز، رسول الله ﷺ په صحابه کرام رضی الله عنهم تجارت ته هڅول او ویل به یې چي امانتکار او رښتینی تجار به د قیامت په ورځ له شهیدانو سره یو ځای وي. عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: التَّاجِرُ الأَمِينُ الصَّدُوقُ الْمُسْلِمُ مَعَ الشُّهَدَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.(سنن ابن ماجه، جـ ۲، صـ ۷۲۴، حديث نمبر ۲۱۳۹). ژباړه: رسول الله ﷺ فرمایي؛ چي رښتینی او آمین تاجر به د قیامت په ورځ له شهیدانو سره وي. خو دا هرڅه هغه وخت کېدای سي چي تاجر د اسلامي شریعت په چوکاټ کي له مندرجو مسؤلیتونو څان خبر او هغه رعایت کړي.

د تجار مسؤلیتونه بنسټیزه او ډېره حساسه مسئله ده، چي ورته د نه پاملرني او نه رعایت په صورت کي یې تجارتي نظام مختلېږي، صداقت او یو پر بل باور له منځه ځي او اسلامي اقتصاد او ټولنیز ژوند استمرار نسي پیدا کولای. څکه نو اسلامي شریعت د یادي موضوع اړوند واضح او بشپړ احکام پیش بیني کړي او د تاجر د مسؤلیتونو اړوند یې خورا منطقي احکام پیش بیني کړي دي.

## د خېړني ستونزه

د اسلامي شریعت له نظره د تاجر د صفاتو او وجایبو په هکله په ټولنه کي د عامه پوهاوي نه شتون، په پښتو ژبه کي په دې عنوان د کمو معلوماتو شتون، په افغاني ټولنه کي د راکړي ورکړي پر مهال د فریب او دوکي ورکولو د ناوړه عرف شتون، د دیني علماؤو، دولتي اداراتو او علمي بنسټونو له لوري په یاده برخه کي د مسؤلیت بشپړ نه ترسراوی او داسي نوري هغه ستونزي دي چي دا اړتیا رامنځ ته کوي، تر څو په دې برخه کي څېړنه وسي او په اسلامي شریعت او قانون کي د تاجر د

وجايبو او مکلفيتونو اړوند له بېلا بېلو مؤثقو او معتبرو سرچينو څخه صريح احکام او معلومات راټول او د يوې علمي څېړنيزي مقالې په شکل ټولني ته وړاندي سي.

**څېړني موخې**

۱- په اسلامي شريعت کې د تجار د مسؤليتونو پېژندل.

۲- د تجار د مسؤليتونو د رعايت اړتيا روښانه کول.

**د څېړني پوښتنه**

اسلامي شريعت د تجار د مسؤليتونو په هکله څه موقف لري؟

## مواد او کړنلاره

د دې له پاره چې د څېړني ترسره کولو په پار کافي اړين اړوند معلومات ترلاسه سي، نو تر ډېره بريده هڅه سوې ده چې د تاجر د صفاتو او وجايبو په هکله اسلامي سرچينې وپلټل سي. بناءً، دا يوه کتابتوني څېړنه ده چې تشريحي څېړنيزي تګلاري پر بنسټ ترسره سوې ده. په دې څېړنيزه ليکنه کې له قرانکريم، نبوي احاديثو، قوانينو، او معتبرو کتابونو او مقالو څخه معلومات راټول سوي دي. دغه علمي او څېړنيزه مقاله په بشپړ اخلاص، رښتينولي، د علمي امانتدارۍ په رعايت او ټولو اسلامي او عرفي ارزښتونو ته په احترام ليکل سوې ده.

## نتيجه او مناقشه

**په اسلامي شريعت کې د تاجر ځانګړي صفات او مسؤليتونه**

دلته به پر دوو موضوعاتو د بېلا بېلو عناوينو په تر کې بحث وکړو.

### الف: په اسلامي شريعت کې د تاجر ځانګړي صفات

د اسلامي شريعت له نظره يو تاجر بايد لاندي ځانګړني صفات ولري:

**۱- د نېک نيت او اخلاص لرل**

نېک نيت او اخلاص په دې معنی دئ چې يو څوک يوازې – يوازي د الله ﷻ د رضاء په خاطر يو کار ترسره کړي او د هيڅ مخلوق رضاء هدف و نه ګرځوي. وعن أبي أمامة الباهلي رضي الله عنه يقول الرسول ﷺ : إِنَّ اللَّهَ لاَ يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلاَّ مَا كَانَ خَالِصًا وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ. (سنن النسائي، جـ ٦، صـ ٢٥، حديث نمبر ٣١٤٠). ژباړه: أبي أمامة الباهلي رضي الله عنه روايت کوي چې رسول

الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ هیڅ یو عمل نه قبلوي، مګر هغه چي خالص او یوازي د الله ﷻ د رضاء په خاطر ترسره سي. (صديقي، ۱۳۹۵ل. ۷۶ مخ).
دا چي تجارت له یوه لوري ګټور، مشروع او د عزت شغل دئ، خو له بله لوري که په نېک نیت وسي عبادت هم دئ. تجار باید تجارت د حلال رزق او د الله ﷻ د رضاء لاسته راوړلو سبب وګرځوي. بناءً، د نېک نیت شتون د انسان له پاره عادي چاري هم عبادت ګرځوي او الله ﷻ ته یې نږدې کوي. رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فرمائي: إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى .... (صحیح البخاري، جـ ٦، صـ ٢٥٥١، حديث نمبر ٦٥٦٣). ژباړه: له عمر بن خطاب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ټولو عملونو قبلېدل په نیت پوري اړه لري، انسان ته د ده د نیت بدله ورکول کیږي. (فاطمي، ۱۳۹۷ل. ۴۸ – ۴۹ مخونه).

### ۲- د حلال رزق ترلاسه کولو اسباب او لاري مدنظر نیول

تاجر باید د تجارت پر مهال د حلال او مشروع رزق ترلاسه کولو اسباب مدنظر ونیسي. دا اسباب عبارت دي له:
**الف – د اسبابو طلبولو هڅه:** نن ورځ په نړۍ کي بېلا بېل کسبونه او شغلونه شتون لري. لکه زراعت، تجارت، صنعت او داسي نور. دا ټول حلال کسبونه دي، کوم چي الله ﷻ د انسان له پاره مقدر کړي دي، نو انسان یې باید د زده کړي او تر سره کولو دوامداره هڅي وکړي. الله ﷻ فرمايي: هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ. ﴿الملك: ۱۵﴾. ژباړه: الله ﷻ هغه ذات دئ چي ستاسي له پاره یې ځمکه پسته هواره او تابع کړې ده، د هغې پر سینه باندي ګرځئ او د الله ﷻ روزي وخورئ او بېرته مو د هماغه ﷻ حضور ته ستاسي په دوهم ځل ژوندي کېدو سره ورتګ دئ.
**ب – تقواء او پرهېزګاري اختیارول:** تقوی د شرعي اوامرو پر ځای کول او د منکراتو او حرامو څخه پرهیز کولو ته وايي.ګڼ شمېر شرعي نصوص مسلمانان تقوی ته هڅوي! الله ﷻ فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ .... ﴿آل‌عمران: ۱۰۲﴾. ژباړه: ای مؤمنانو! د الله ﷻ څخه په حقیقي ډېره سره و ډېرېږئ. کله چي معاذ رضی الله عنه یمن ته تلئ، نو رسول الله ﷺ ورته و فرمایل: اتَّقِ اللَّهَ حَيْثُمَا كُنْتَ. ژباړه: له الله ﷻ څخه و ډېرېږه هر ځای چي یې. الله ﷻ د متقیانو د رزق پراخولو او ستونزو لېري کولو ذمه واري اخیستې ده او فرمايي: وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا، وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ .... ﴿الطلاق: ۲-۳﴾. ژباړه: او څوک چي له الله ﷻ څخه و ډېرېږي، نو الله ﷻ ورته د ستونزو څخه د وتلو لار جوړوي او هغه ته له داسي لاري رزق ورکوي، کوم چي دی یې هیڅ ګمان/ فکر نه سي کولای. سره د دې چي رسول الله ﷺ د متقیانو امام او سردار وو،

خو بیا یې هم د لازیاتي تقوی غوښتنه کول او فرمایل به یې: اللَّهُمَّ إِنِي أَسْأَلُكَ الهُدَى، وَالتُّقَى، وَالعفَافَ، والغنَى. (سنن الترمذي، ۳۴۸۹ حدیث). ژباړه: ائ الله ﷻ ما ته هدایت، تقوی، پاک لمني او مړښت را په برخه کړه.

**ج – ډېر ډېر استغفار ویل:** د نوح علیه السلام په هکله الله ﷻ فرمایي: فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً ، يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَاراً ... . ﴿نوح: ۹ - ۱۲﴾. ژباړه: او موږ ورته و ویل: له خپل رب ﷻ څخه بخښنه وغواړئ، بېشکه چي هغه ډېر بخښونکی دئ، هغه به پر تاسي له پاسه پرلپسې ښه پراخ اورښتونه و اوروي. همدا راز، رسول الله ﷺ فرمایي: عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ لَزِمَ الاِسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللَّهُ لَهُ مِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا، وَمِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجًا وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ. (سنن أبی داود، ۱۵۱۸ حدیث). ژباړه: چا چي استغفار ویل پر ځان لازم کړل، نو الله ﷻ به ده ته د ټولو سختیو او مصیبتونو څخه د وتلو لاري آسانه کړي او د داسي طرف څخه به رزق ورکړي چي دی به یې ګمان لا هم نه کوي.

**د – یوازي پر الله ﷻ توکُل کول:** الله ﷻ فرمایي: ... وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ... . ﴿الطلاق: ۳﴾. ژباړه: څوک چي پر الله ﷻ توکل وکړي، نو د ده له پاره یوازي همدا (الله ﷻ) کافي دئ.

**هـ – د رزق غوښتلو او ډېروالي دعاء کول:** الله ﷻ فرمایي: وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ... . ﴿غافر: ۶۰﴾. ژباړه: او ستاسي رب ﷻ و ویل چي زما څخه یو څه و غواړئ، ترڅو ستاسي غوښتني (دعاوي) درته قبولي کړم. البته، د رزق غوښتني له پاره بېلا بېلي دعاګاني شتون لري. لکه؛ (ای رزق ورکوونکي ﷻ! ما ته روزي راکړه، بېشکه چي ته غوره روزي ورکوونکی یې). همدا راز، ای الله ﷻ! زه ستا څخه غوښتنه کوم د حلال او پراخ رزق. د دې ترڅنګ؛ : ای الله ﷻ ما ته هدایت، تقوی، پاک لمني او مړښت را په برخه کړه.

**و – د الله ﷻ پر نعمتونو شُکر اداء کول:** یوازي پر تاجر نه، بلکي پر هر مسلمان لازمه ده چي د الله ﷻ پر ورکړو نعمتونو شُکر اداء کړي. الله ﷻ فرمایي: وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ. ﴿ابراهیم: ۷﴾. ژباړه: او په یاد ولرئ چي ستاسي رب ﷻ خبر دار کړي واست که شُکر اداء کړئ، نو پر تاسي به لا زیاته پېرزوینه وکړم، خو که ناشُکري وکړئ، نو بېشکه زما عذاب ډېر سخت دئ.

**ز – د الله ﷻ په لار کي د مال مصرفول:** د الله ﷻ په لار کي د مال/ شتمنی مصروفول لکه؛ زکات، عُشر، صدقات او داسي نور ورکول د مال او شتمني د کموالي نه، بلکي د لازیاتوالي لامل کیږي. رسول الله ﷺ فرمائي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ رسول الله ﷺ: مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلاَّ مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا

تَلَفًا. ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: هره ورځ دوې ملائکې ځمکې ته راکښته کيږي، يوه ئې وايي: اې الله ﷻ ! څوک چې ستا په لار کې انفاق کوي هغه ته يې بدله ورکړې. او بله ئې وايي اې الله ﷻ ! څوک چې ستا په لار کې انفاق نه کوي د هغه مال هلاک کړې. (د معاملاتو شرعي بنسټونه، ۱۱ – ۱۵مخونه).

## ۳- بازار ته د داخليدو مهال مسنون اذکار ويل

کله چې تجار بازار ته د تجارت او کاروبار په موخه داخليږي، نو بايد د الله ﷻ په يادونه او ذکر سره خپل کار پيل کړي، ترڅو د يوه لوري ثواب او له بله لوري په معاملاتو کې د برکت څخه برخمن سي. رسول الله ﷺ فرمايي: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ دَخَلَ السُّوقَ، فَقَالَ: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، كَتَبَ اللَّهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ، وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ، وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ. (سنن الترمذي، جـ ۵، صـ ۴۹۱، حديث نمبر ۳۴۲۸). ژباړه: له حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ و فرمايل: څوک چې بازار ته داخليږي او و وايي چې:لاإِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. الله ﷻ به د ده له پاره زر نيکی وليکئ او له ده څخه به زر بدی لېرې کړي او زر درجې به يې لوړې کړي. (ــــــــــــ، (ب، ت). د معاملاتو شرعي بنسټونه، ۷ مخ).

## ۴- نرم چلند او ښه سلوک

په تجارتي ډګر کې له مشتريانو سره د اړيکو پر مهال بايد قومي، سمتي او ژبني تفاوتونه، کاري موقعيتونه، عمر، اقتصادي وضعيت او داسې نور معيارونه مدنظر و نه نيسو، بلکې له ټولو سره يو شان چلند وکړو. د ښه، ګټور او برکتمن تجارت د پيل يوازينۍ لار د اخلاقي اصولو او معيارونو رعايت دئ. يو کس او کار چې هر څومره کوچنی وي د اخلاقي اصولو په رعايتولو سره د مشتريانو تر منځ په ښو اخلاقو شهرت پيدا کوي. دا کار د تاجر د برياليتوب او ګټې سبب ګرځي. ځکه نو بايد د تجارتي امورو او معاملاتو پر مهال له مقابل لوري (مشتري) سره نېکه رويه او نرم سلوک وسي. په دې هکله جابر بن عبدالله رضی الله عنه داسې روايت کوي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: رَحِمَ اللَّهُ رَجُلاً سَمْحًا إِذَا بَاعَ ، وَإِذَا اشْتَرَى، وَإِذَا اقْتَضَى. (صحيح البخاري، جـ ۲، صـ ۷۳۱، حديث نمبر ۱۹۷۰). ژباړه: له حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ فرمايي: الله ﷻ دې پر هغه چا رحم وکړي چې په خرڅولو، رانيولو او د خپل حق په غوښتلو (د پور په غوښتلو) کې آساني او نرم سلوک کوي. همدا راز له

ابي هريره رضی الله عنه څخه روایت دئ، لکه چي فرمائي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ سَمْحَ الْبَيْعِ، سَمْحَ الشِّرَاءِ، سَمْحَ الْقَضَاءِ. (سنن الترمذي، جـ ۴، صـ ۶۹۸، حدیث نمبر ۲۵۶۸). ژباړه: له ابي هريره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمایل: الله ﷻ هغه خرڅول، رانیول او د حق غوښتل خوښوي چي پکي نرمه رویه او نېک سلوک شتون ولري.

او الله ﷻ فرمایي: وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿آل‌عمران: ١٣٤﴾. ژباړه: د جنتیانو له خویونو څخه یو دا دئ چي سړی خپله غوصه وزغمي او تېري کوونکو خلکو ته عفوه وکړي، بېشکه الله ﷻ نېکي کوونکي خلك خوښوي. بل ځای کي راځي: وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ﴿فصلت: ٣٤﴾. ژباړه: نېکي او بدي هيڅکله سره برابرې دای نه سي، په نېکی سره بدي له منځه یوسه، ځکه په داسي کولو سره به ستا دښمن ستا په خوږ دوست بدل سي.

همداراز، په یو روایت کي راځي: عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَجَذَبَ رِدَاءَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى حَمَّتْ رِدَاءَهُ عَلَى عُنُقِهِ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ! مُرْ لِي مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي عِندَكَ فَانْتَفَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى فَتَحَ فَاهُ، فَفَجَأَ رِدَاءَهُ فَقَالَ: خُذْ، فَإِنَّ فِي اللَّهِ بَرَاءَةً فِي قُدَمَيْهِ. (صحیح مسلم، جـ ۴، صـ ۱۲۴، حدیث نمبر ۲۴۴۶). ژباړه: انس بن مالك رضی الله عنه روایت کوي چي زه د رسول الله ﷺ سره روان وم چي یو اعرابي راغلی او د علیه السلام پر اوږو پروت څادر یې کش کړ چي ان غاړه مبارکه یې وګرېدله او و یې ویل: ائ محمده! د خدای له هغه مال څخه ما ته راکړه چي تاسره موجود دئ، رسول الله ﷺ ورته وکتل، ویې خندل او د مال د ورکړي امر یې وکړ. همدا راز؛ عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ مِنْ أَيِّ الْحُورِ شَاءَ. (سنن أبو داود، جـ ۴، صـ ۲۴۸، حدیث نمبر ۴۷۷۷). ژباړه: څوك چي په داسي حال کي خپل قهر او غصه وزغمي او عفوه وکړي چی د خپل قهر د عملي کولو او تطبیق توانایي ولري، نو د قیامت په ورځ به الله ﷻ د خلکو په مخ کي دا سړي ته دا اختیار ورکړي چي هره حوره دي خوښېږي د ځان له پاره یې واخله. (هماغه، د معاملاتو شرعي بنسټونه، ۷ – ۸ مخونه).

### ۵- امانتداري او صداقت

صداقت او امانتداري په حقیقت کي د مسلمان ستري نښي او صفتونه دي، ځکه هر فرد چي په ټولنه کي په یو ځانګړي کار او کسب بوخت سي، دا په حقیقت کي له ده سره یو امانت

دئ. الله ﷻ په قرانکریم کي فرمايي: إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا. ﴿النساء: ٥٨﴾. ژباړه: الله ﷻ تاسو ته امر کوي چي امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. همدا راز حضرت علی رضی الله عنه خپلو کارمندانو فرمايي؛ "هغه کار چي تا ته سپارل سوی دئ، بلکي ستا پر ذمه یو امانت دئ". همدا راز الله ﷻ د صداقت په هکله فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ. ﴿التوبه: ۱۱۹﴾. ژباړه: آی مؤمنانو! له الله ﷻ څخه و بېرېږئ او له صالحانو خلکو سره ملګري سئ. د دې تر څنګ عَنْ عَبْدِ الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهما، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يَكُونَ صِدِّيقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا. (صحيح المسلم، جـ ۴، صـ ۲۰۱۳، حديث نمبر ۲۶۰۷). ژباړه: یقيناً صداقت بنده د نېکۍ لور ته بيايي او نېکي بنده د جنت لور ته بيايي، تر دې پوري چي رښتيا ويونکی سړی د الله ﷻ په نزد صديق وليکل سي او يقيناً درواغ سړی د بدو کارونو لور ته بيايي او بد کارونه سړی د اور لور ته بيايي، تر دې چي درواغ ويونکی سړی د الله ﷻ په نزد درواغجن وليکل سي.

بناءً، تاجر بايد ځان له هر ډول خيانت څخه وساتي، څکه رسول الله ﷺ فرمايي: إِنَّ التُّجَّارَ يُبْعَثُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّاراً إِلَّا مَنِ اتَّقَى، وَبَرَّ، وَصَدَقَ.(سنن الترمذي، جـ ۳، صـ ۵۱۵، حديث نمبر ۱۲۱۰). ژباړه: بېشکه تاجران به د قيامت په ورځ فاجران را پورته کېږي، پرته له هغو تاجرانو څخه چي له الله ﷻ څخه بېرېږي، ښه اعمال کوي او صادق وي. په دې حديث کي د (فاجر) لفظ ډېريو شارحينو د درواغو په قسم خور تفسير کړی دئ. (هماغه، د شرعي معاملاتو بنسټونه، ۸ - ۹ مخونه).

## ٦- پر ژمنه وفاء کول

پر ژمنه وفاء کول د یو مؤمن ستره ځانګړنه ده چي پر بنسټ يې له منافق څخه بېلېږي او پر ژمنه وفاء نه کول د منافق له علاماتو څخه ده. لکه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ. (صحيح البخاري، کتاب الايمان، باب علامة المنافق، جـ ۲، صـ ۲۴). ژباړه: له حضرت ابي هريره (رضي الله عنه) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايي: د منافق نښي درې دي؛ کله چي خبري کوي درواغ وايي، کله چي وعده وکړي وعده خلافي کوي، کله چي امانت ور وسپارل سي خيانت پکي کوي.

بناءً، تاجر بايد په هر حالت کي هڅه وکړي، ترڅو د پېرودونکو اعتماد راجلب کړي، خو د دې اعتماد تر ټولو بنسټيزه او مهمه لار پر خپلو کړو ژمنو وفا ده او الله ﷻ فرمايي: يَا أَيُّهَا

الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ... ﴿االمائده: ۱﴾. ژباړه: آی مؤمنانو! پر خپلو عقدونو وفاء وکړئ. همدا راز بل ځای کي الله ﷻ فرمایي: وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ. ﴿المؤمنون: ۸﴾. ژباړه: او هغه کسان بریالي سول چي دوی د امانتونو او وعدو رعایتوونکي دي. (هماغه، ۱۰ مخ).

## ب: په اسلامي شریعت کي د تاجر مسؤلیتونه

د اسلامي شریعت له نظره یو تاجر د لاندي مسؤلیتونو لرونکی دئ:

### ۱- په وزن او اندازه کي عدل او انصاف کول

د الله ﷻ له لوري د ټولو پیغمبرانو رالیږلو او آسماني کتابونو د نزول یوازینۍ موخه پر ځمکه د حق او عدالت قائمول دي. الله ﷻ فرمایي: لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ .... ﴿الحدید: ۲۵﴾. ژباړه: یقیناً موږ پیغمبران له خپلو روښانه او ښرګندو هدایاتو سره ولیږل او له هغوی سره مو کتاب او تله نازل کړل، تر څو پر خلکو عدالت قائم سي. دا چي د اسلام د مبارك دین بنسټګر عادل ذات الله ﷻ دئ، ځکه نو له خپلو بنده ګانو څخه هم د عدالت غوښتنه کوي

تجار باید د معاملې پر مهال د اجناسو په اندازه او وزن کي له عدالت څخه کار واخلي او په هیڅ صورت باید چي د هغوی په وزن او اندازه کي کموالی و نکړي. الله ﷻ په دې هکله فرمایي: وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا... . ﴿الانعام: ۱۲۵﴾. ژباړه: او پوره کړئ تاسي پیمانه او تول (وزن) په عدل او انصاف سره. همدا راز بل ځای کي فرمایي: وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ، الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ، وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ، أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ، لِيَوْمٍ عَظِيمٍ، يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ. ﴿المطففین: ۱- ٦﴾. ژباړه: هلاکت او تباهي ده کموونکو لره هغوی چي له خلکو څخه څه پیمانه کوي، نو پوره یې اخلي، خو چي نورو ته یې ورکوي، نو کمي پکي کوي، ایا دی په دې باور نه لري چي راپورته به کړل سي، یوې لویي ورځي ته، په دې ورځ به ټول خلك د رب العالمین په وړاندي ودریږي. (هماغه، ۱۱ مخ).

### ۲- د پښېمانتیا په صورت کي د مال بیرته قبلول

کله چي مشتري په معامله کي پښېمانه سي، نو تجار دي په ښه سلوك او نرمه رویه یاد شی/ مال بېرته ځني واخلي، په دې سره تجار کولای سي ډېر ثوابونه ترلاسه کړي. په یو حدیث شریف کي راځي؛ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا، أَقَالَهُ اللَّهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (سنن أبو داود، حدیث نمبر ۲۳۸۷). ژباړه: له حضرت ابي هریره (رضي الله عنه) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ فرمایي: چا چي په ښه شان د مسلمان ورور د پښېمانتیا په صورت کي معامله فسخ کړه، الله جل جلاله به یې د قیامت په ورځ له سختۍ وساتي او ګناه به یې ور معاف

کړي. همدا راز په یو بل حدیث شریف کي راځي: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رسول الله ﷺ: اللَّهُمَّ مَنْ رَفَقَ بِأُمَّتِي فَارْفُقْ بِهِ، وَمَنْ شَقَّ عَلَيْهِمْ فَشُقَّ عَلَيْهِ. (صحيح مسلم، حديث نمبر ۱۸۲۸). ژباړه: له بي بي عائشې صدیقې رضي الله عنها څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: آئ الله ﷻ! څوک چې زما پر امت مهرباني او ترحم کوي، ته مهرباني ور سره وکړې او څوک چې بده رویه ورسره کوي، ته هغه ته جزا ورکړې. (هماغه، ۱۰ – ۱۱ مخونه).

**۳- له دوکې (حیله) ورکولو او غبن (تېر ایستنه) څخه ډډه کول**

دوکه له هغو مکرجنو فعلي او قولي وسایلو له کارولو څخه عبارت ده چې پر بنسټ یې یو شخص د عقد انعقاد ته مجبور سي، په داسي ډول چې که یاده دوکه نه وای، نو نوموړي به په هیڅ صورت عقد نه منعقد کاوه. لکه: یو چلباز خپل زوړ آس د څوان آس په پلمه پلوري. همدا راز، غبن/تېر ایستنه بیا هغه تاوان دئ چې د عقد انعقاد پر مهال یې یو لوری متحمل سي او له امله یې د طرفینو په وجایبو کي یو ډول غیر معتدل حالت را منځ ته سي.غبن هغه وخت مطرح کیږي چې د طرفینو په وجیبو کي غیر منظموالی را منځ ته سي، خو دا خبره باید په یاد ولرو چې هر ډول تاوان غبن نه سي کېدای او نه عقد فسخ کولای سي، ځکه دا طبعي خبره ده چې د معاملې یو لوری به ګټمن او بل لوری به زیانمن وي. (دانش، ۱۳۹۹ل. ۵۹ – ۷۰ مخونه).

تاجر باید په معاملاتو کي له هر ډول دوکې ورکولو او غبن څخه جدي ډډه وکړي، ځکه یاد اعمال د اسلامي شریعت له نظره ګناه او ناوړه کړنې ګڼل سوي دي چې د دنیوي او اخروي زیانونو را منځ ته کېدو لامل کیږي. په یو حدیث شریف کي راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا، وَالْمَكْرُ وَالْخِدَاعُ فِي النَّارِ. (سنن الترمذي، كتاب البر والصلة، باب ما جاء في الخياة والغش، حديث نمبر ۱۹۴۲) ژباړه: له عبدالله رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې موږ ته دوکه راکوي له موږ (زما له اُمت) څخه نه دئ، مکرجن او چلباز به په اور کي وي. (هماغه، ۱۱ مخ).

**۴- د قسمونو له اخیستلو څخه ډډه کول**

تجار باید د خپلو معاملاتو د اجراء پر مهال له قسم اخیستلو څخه ډډه وکړي، آن که څه هم رښتیا وي. الله ﷻ فرمایي: وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَانِكُمْ أَن تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ). ﴿البقره: ۲۲۴﴾. ژباړه: د الله ﷻ نوم په داسي قسمونو خوړلو کي مه یادوئ، چې په هغو کي هدف له نېکۍ، پرهېزګارۍ او د خدای د بنده ګانو د ښېګڼې له کارونو څخه منع کول وي، الله ﷻ ستاسي ټولي خبري اوري او په هر څه پوهېږي. همدا راز په یو حدیث شریف کي راځي: عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رسول الله ﷺ يَقُولُ: إِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الْحَلِفِ فِي الْبَيْعِ

فَإِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يَمْحَقُ. (صحیح المسلم، جـ ۳، صـ ۱۲۲۸، حدیث نمبر ۱۶۰۷). ژباړه: له ابي قتاده الانصاري رضی الله عنه څخه روایت دئ چې ما له رسول الله ﷺ څخه وا وریدل چي و یې فرمایل: په تجارت کي د ډېرو قسمونو یادولو څخه ډډه وکړئ، ځکه چي ډېر قسمونه یادول بیعي ته فایده لري، مګر وروسته یې ګټه ختموي، یا داسي چي تجارت رواجوي، مګر وروسته یې ختموي.

له رسول الله ﷺ څخه ګڼ شمېر احادیث د قسمونو د نه اخیستلو په هکله روایت سوي دي. په یو حدیث شریف کي رسول الله ﷺ فرمایي: إِنَّ التُّجَّارَ هُمُ الْفُجَّارُ". فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَمْ يُحِلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ؟، فَقَالَ:"إِنَّهُمْ يَقُولُونَ فَيَكْذِبُونَ، وَيَحْلِفُونَ فَيَأْثَمُونَ. (البیهقي في سننه الکبری، جـ ۵، صـ ۲۶۶، حدیث نمبر ۱۰۱۹۵). ژباړه: یقیناً تاجران فاجران دي، یو کس ورته و ویل ای د الله ﷻ رسول ﷺ، نو آیا الله ﷻ تجارت نه دی حلال کړی؟ رسول الله ﷺ و فرمایل هو حلال کړی یې دئ، مګر هغوی (تاجران) درواغ وایي او په درواغو قسمونه یادونه، په همدې وجه هغوی (تاجران)ګنهګاران دي.

## ۵- په جنس/ مال کي له عیب پټولو څخه ډډه کول

نن سبا دعیب لرونکی مال په اصل مال (ښه مال) کي داسي پټول چي د مشتري څخه د هغه عیب پټ وي د یو هنر حیثت یې غوره کړی دئ او څوک چي په دې کار کي مهارت ولري ډېر پوه ګڼل کیږي په هر صورت؛ که مال عیب ولري او اخیستونکي ته یې و نه وایي دا فریب کاري ده او دغه بیع حرامه ده. عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: مَنِ بَاعَ عَيْبًا لَمْ يَتَنَبَّهْ لَهُ لَمْ يَزَلْ فِي مَقْتِ اللَّـهِ وَ لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَلْعَنُهُ. (سنن الترمذي، کتاب البیوع، باب ما جاء کتابة الشروط، حدیث نمبر، ۱۲۱۶). ژباړه: له واثله ابن الاسقع څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي څوک چي خپل عیب لرونکي مال پرتهددې چي عیب یې ووایي خرڅ کړي، نو هغه همېشه د الله ﷻ په غضب کي وي یا پرښتي پري همیشه لعنت وایي. همدا راز، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا، فَقَالَ: مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ؟ قَالَ: أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ لِيَرَاهُ النَّاسُ؟ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي. (صحیح المسلم، حدیث نمبر ۱۰۲). ژباړه: له حضرت ابي هریره څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ دغلې په یو ډېري باندي تیریده هغه ﷺ په کي لاس وردننه کړ، نو ګوتو مبارک یې د نموالي احساس وکړ، نو ویې فرمایل: ای غلې والا دا څه دي؟ هغه وویل یا رسول الله ﷺ باران سوی وو، وې فرمایل چي تا دغه نم داره غله

ولي را لوړه/ بهر نه کړه، ترڅو خلکو ليدلی وای، بيا يې وفرمايل: څوک چې دوکه کوي هغه زموږ له ډلي څخه نه دئ.

په هرصورت؛ تاجر بايد چې د رانيولو او خرڅو پر مهال په جنس کې موجود عيب ښکاره کړي. عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ ، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يَقُولُ: الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ إِنْ بَاعَ مِنْ أَخِيهِ بَيْعًا فِيهِ عَيْبٌ أَنْ لاَ يُبَيِّنَهُ لَهُ. (البيهقي، جـ ۴، صـ ۳۲۵). ژباړه: عقبه بن عامر الجهني رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ و فرمايل: مسلمان د بل مسلمان ورور دئ، نو مسلمان ته دا جائز نه ده چې کله يې له مسلمان ورور څخه مال/ جنس اخلي او په هغه کي عيب وي، خو دی يې عيب نه بيانوي. (هماغه، ۱۱ مخ).

## ٦- له نامطلوب او غير منصفانه تجارتي چلند څخه ډډه کول

نامطلوب (ناخوښه) او غير منصفانه تجارتي چلند هغو کړنو او اقداماتو ته ويل کيږي چې په ملي او نړۍ واله سطحه ئې پر بنسټ تجارت کول د مکارمو (غوره) اخلاقو خلاف بلل کيږي. د دې ډول چلند ځيني موارد عبارت دي له: ګمراه کوونکي تبليغات، د مضرو شيانو/ اجناسو له پاره بازار موندنه، د هغه نمونې سره دعرضه سويو يا توليد سويو توکو نه تطابق چې طرفينو پرې موافقه کړې ده، په اګاهانه ډول له مشتري څخه د جنس/ توکي د عيب پټول، ډامپينګ يا تر نهايي قيمت په ټيټ نرخ د توکو خرڅلاو، پر ټاکلي وخت د توکو نه لېږل/ سپارل، د اجناسو په پلور کې د مشترياتو تر منځ تبعيضي چلند کول، د اجناسو له پاره د هغو ځانګړو صفاتو او امتيازاتو بيانول کوم چې په حقيقت کې ياد مواصفات په مذکور جنس کې شتون و نلري، د يو جنس د کيفيت درجه بندي ټاکل په داسي حال کې چې ياد جنس يا خدمت هغه و نلري، د يو جنس څخه د استفادې له پاره د غير واقعي مودې تعينول، د نوي جنس په عوض يا نوم د زاړه يا مستعمل جنس خرڅول، مشتري له هغو حقوقو او امتيازياتو څخه محرومول چې قانون ورکړې وي. (محمد علمي، ۱۳۸۷ل. ۱۲ – ۱۳ مخونه). بناءً، تاجر بايد د پورتنيو نامطلوب او غير منصفانه تجارتي کړنو څخه جدي ډډه وکړي.

## ۷- له احتکار څخه ډډه کول

احتکار په لغت کې د ګرانۍ په انتظار د يوشي ساتني ته وايي. نو مُحتَكِر هغه څوک دئ چې د ګرانۍ په پار خوراکي توکي له بازار او خرڅلاو څخه راګرځوي. د اسلامي فقهي له نظره احتکار دا دئ چې يو څوک (اقوات) يعني د انسانانو او حيواناتو د پايښت خوراکي مواد لکه: غوړي، غنم، وربشي، پروړ، شپيشتي او داسي نور د ګرانۍ په انتظار ذخيره کوي. احتکار هغه وخت حرام دئ چې د موادو کمښت او تنګي وي او خلکو ته يې زيان رسيږي، خو که په يو ښار کې د

خوراکي توکو پراخي شتون ولري او په احتکار کولو سره خلك نه زيانمنېدل، نو احتکار جائز دئ. همدا راز، د خپلې ځمکي د حاصلاتو ساتل د ګرانۍ له پاره احتکار نه بلل کيږي، ځکه دا يې خپل حق دئ. (لدهيانوی شهيد، ۱۳۹۴ل. ۹۹ مخ).

په هر صورت؛ تاجر ته جائز نه ده، چې احتکار وکړي او د خپلې شخصي ګټې په پار د ټولني عامه مصالح تر پښو لاندې کړي. ځکه احتکار اخروي سزا برسېره دنيوي سزا هم لري. رسول الله ﷺ فرمايي: مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ ». (صحيح المسلم، حديث نمبر ۱۶۰۵). ژباړه: هر هغه څوک چې په احتکار لاس پوري کړي ګنهار دئ. همدا راز، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: بِئْسَ عَبْدًا لِلَّهِ الْمُحْتَكِرُ، سَمِعَ بِرَخْصٍ سَاءَ وَإِنْ سَمِعَ بِغَلَاءٍ فَرِحَ (البيهقي، فى شعب الإيمان، جـ ۷، صـ ۵۲۵، حديث نمبر ۱۱۲۱۵). ژباړه: محتکر بد ترين انسان دئ، ځکه چې ارزاني واوري په خفه کيږي او که د نرخونو لوړېدل واوري، نو خوشحالېږي. رسول الله ﷺ فرمايي: الْجَالِبُ مَرْزُوقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ. (سنن ابن ماجه، جـ ۲، صـ ۷۲۸، حديث نمبر ۲۱۵۳). ژباړه: هغه څوک چې مال راوړونکی وي (په بازار کې يې د خلکو لپاره وړاندې کوي) روزي ورکول کيږي، او هغه څوک چې محتکر (د ګرانۍ په موخه مال ذخيره کوي او د مال د مصنوعي کمښت رامنځ ته کوي)، لعنت پر ويل سوی دئ. ملا علي قاري رحمه الله دغه روايت داسې تفسيروي: زموږ بازارونو ته مالونه راوړونکي د الله ﷻ له رحمت او د تجارت له برکته برخمن دي او زموږ له بازارونو د ګرانېدو په نيت د اموالو ذخيره کوونکي د لعنت او مسکنت سره مخ دي. همدا رز، عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ لَيْلَةً فَقَدْ بَرِئَ مِنْ اللَّهِ تَعَالَى وَبَرِئَ اللَّهُ تَعَالَى مِنْهُ. (احمد، جـ ۸، صـ ۴۸۱). ژباړه: څوک چې د ګرانېدو په خاطر تر څلوېښتو ورځو خوراکي مواد وساتي، بې شکه چې هغه نفر له الله ﷻ نه بېزاره دئ او الله ﷻ هم له هغه نفر څخه بېزاره دئ. بناءً، احتکار کوونکي نه يوازې پر خپلو ځانونو د الله ﷻ غضب نازلوي، بلکې نورو خلکو ته هم د الله غضب جلبوي؛ روايت دئ چې: «أيما أهل عرصة أصبح فيهم امرؤ جائعا فقد برئت منهم ذمة الله». يعني په هر کلي/کور کې که کوم نفر له لوږې شپه سبا کړي، نو له هغو خلکو د الله ﷻ ذمه پورته کيږي؛ يعني په دنيا کې ورباندې تعزير راځي او په آخرت کې ورته عذاب ورکول کيږي. رسول الله ﷺ فرمائي: عَنْ الْيَسَع بْنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بِرَجُلٍ بِالسُّوقِ يَبِيعُ طَعَامًا بِسِعْرٍ هُوَ أَرْخَصُ مِنْ سِعْرِ السُّوقِ، فَقَالَ: تَبِيعُ فِي سُوقِنَا بِسِعْرٍ هُوَ أَرْخَصُ مِنْ سِعْرِنَا؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: صَبْرًا وَاحْتِسَابًا. قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: أَبْشِرْ فَإِنَّ الْجَالِبَ إِلَى سُوقِنَا كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُحْتَكِرُ فِي سُوقِنَا كَالْمُلْحِدِ فِي كِتَابِ اللَّهِ. (المستدرک، کتاب البيوع، جـ ...، صـ ۱۵). ژباړه: له يسع بن مغيره رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ په بازار کې په يو نفر تيريدو چې خوراکي مواد يې د بازار له نرخ نه په ډېر ارزان قيمت خرڅول، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته خو له بازار نه په ډېر

کم قيمت خپل توکي خرڅوي هغه و ويل هو، رسول الله ﷺ وويل: د ثواب په نيت ول؟ هغه وو ويل هو. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تاته زيرى درکوم زموږ بازار ته د خير او برکت راوړنکي داسي دي لکه د الله په لاره کي جهاد کوونکي او زموږ په بازار کي د خلکو په ضرر د اموالو ذخيره کوونکي داسي دي لکه ملحدين د الله په کتاب سره. حنفي فقه محتکر ملعون، ګناهګار او زيانمن ګڼي. څوک چي احتکار ترسره کوي لومړى دې د وخت حکومت پوهاوى ورکړي، که يې دا عمل تکرار کړ اخطار دې ورکړي، که يې دريم ځل تکرار کړ نو زنداني دې يې کړي او تعزير دې هم ورکړي. قاضي دې د دغسې محتکر اموال څني خرڅ کړي فقط د عيال د نفقې په اندازه دې ورته پرېږدي.

## ۸- د تجارتي دفاترو لرل او د معاملاتو ثبتول

تاجر مکلف دئ چي د خپلو تجارتي چارو د منظم ترسراوي په موخه تجارتي دفترونه ولري. دا دفترونه د تجارت اصولنامي له ٦٥ مادې څخه تر ٨٤ مادې پورې توضيح او تصريح سوي دي. (ستانګزى و ناصح، ۹۴ مخ). تجارتي دفترونه له هغه مرقومو (نښانه) پاڼو څخه عبارت دي چي تاجر يې د خپلي مالي شتمنى د توضيح له پاره د قانون له حکم سره سمي ساتي. (حميدي، ۴٦ مخ). تجارتي دفترونه ډېر ارزښت لري، ځکه يو شخص که هر څومره ځيرک او ذکي وي، خو بيا هم هېره لري، نو په تجارتي دفترونو کي د معاملاتو ثبت ياد مشکل حلوي. د تجارتي دفترونو ارزښت په لاندي ټکو کي را خلاصه کولاى سو: ۱- تجارتي دفترونه د معاملاتو په تنظيم کي له تاجر سره ډېر مرسته کوي، تر څو د خپل تجارت يو حقيقي بيلانس جوړ کړي. ۲- د تجارتي دفترونو پر بنسټ تاجر خپله ګټه او زيان په اسانى سره تشخيصولاى سي. ۳- تجارتي دفترونه په محکمه کي د اثبات د وسيلې په توګه کارول کېداى سي. ۴- تجارتي دفترونه د افلاس او ورشکستګۍ په صورت کي بنسټيز رول لري. ۵- تجارتي دفترونه د مالياتو د سنجش او ترلاسه کولو په صورت کي د دولت له پاره ګټور دي. (نيازى، ۱۳۹۰ل. ۵۲ – ۵۳ مخونه).

د تجارتي معاملاتو ليکل او ثبت د اسنادو په حيث په اسلامي شريعت کي خورا زيات اهميت لري، ځکه نو د ا.اد عدلي محکمو د اداري او حقوقي اجراآتو اصولنامې د ۱۳۸ او ۱۵۰ – ۱۷۱ مادو له مخي اسناد د خپل قوت له حيثه د محکمې په وړاندي تر اقرار او شهادت په وروسته درجه کي قرار لري او په محکمه کي د اثباتيه مدرك په توګه کارول کېداى سي. بايد و وايو چي په معاملاتو کي د اسنادو د ليکلو په هکله اسلامي شريعت ځانګړي احکام وضع کړي دي او د اسنادو پر ليکلو يې تأکيد کړى دي. الله ﷻ فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ ... .﴿البقره: ۲۸۲﴾ ژباړه: اى هغو کسانو چي ايمان مو

راوړی دئ! کله چي يو له بله سره تر ټاکلي نېټې پوري په پور معاملات کوی، نو ستاسي په منځ کي دي يو کاتب په عدل سره ليکنه وکړي. دا آيت د قران کريم د البقرې سورة تر ټولو اوږد آيت دی چي د پور او معاملاتو د ليکلو اهميت څرګندوي. همداراز؛ رسول الله ﷺ فرمايي: الْبَيِّنَةُ عَلَىٰ مَنْ ادَّعَىٰ وَالْيَمِينَ عَلَىٰ مَنْ أَنْكَرَ. (سنن ترمذي، حديث نمبر ۱۳۴۱). دا حديث د ثبوت اصول بيانوي، چې مدعي بايد اسناد يا شاهدان وړاندې کړي، او منکر قسم وکړي. د دې ترڅنګ؛ علامه کاساني په بدائع الصنائع کي وايي: " إِنَّ الكِتَابَةَ وَالشَّهَادَةَ مِنْ أَسْبَابِ تَوْثِيقِ الْحُقُوقِ فِي الْمُعَامَلَاتِ وَهِيَ مُعْتَبَرَةٌ شَرْعًا". (بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، جـ ۵، صـ ۲۱۷). همداراز، علامه ابن قدامه په المغني کي وايي: وَلاَ يُجَوِّزُ تَرْكُ الْكِتَابَةِ وَالشَّهَادَةِ فِي الْمُعَامَلَاتِ الَّتِي يُخْشَى فِيهَا النِّزَاعَ". (المغني لابن قدامة، جـ۴، صـ ۳۸) پورتني عبارات هم د اسنادو پر ليکلو سربېره د هغو معاملاتو لپاره ثبت اړين ګڼي، کوم چي پکښې د شخړي امکان شتون ولري.

## مناقشه

د دې علمي او څېړنيزي ليکني په پای کي ويلای سو هغه پوښتني په اسلامي شريعت کي د تجار د مسؤليتونو، په اسلامي شريعت کي د تجارت د سپېڅلي مسلک د موقف د لوړوالي او د تجار له لوري د يادو مسؤليتونو د رعايت د اړتيا اړوند زموږ سره موجودي وې، د دې ليکني په مرسته واضح سوه چي اسلامي شريعت کي د تاجر د مسؤليتونو په هکله بشپړ او واضح احکام لري. همدا راز، تجارت په اسلامي شريعت کي يو ځانګړی او سپېڅلی مسلک دئ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ: التَّاجِرُ الأَمِينُ الصَّدُوقُ الْمُسْلِمُ مَعَ الشُّهَدَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (سنن ابن ماجه، جـ ۲، صـ ۷۲۴، حديث نمبر ۲۱۳۹). ژباړه: رېښتنی او امانت کار تاجر به د قيامت په ورځ له پيغمبرانو، رېښتنو او شهيدانو سره سره وي. احتکار چي پکښې د ټولني عامه مصالح تر پښو لاندي کيږي او عام خلک زيانمنېږي، اسلامي شريعت ډېر ناوړه او بد عمل ګڼلی دئ. عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ : قَالَ رسول الله ﷺ : الْجَالِبُ مَرْزُوقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ. (سنن ابن ماجه، جـ ۲، صـ ۷۲۸، حديث نمبر ۲۱۵۳). ملا علي قاري رحمه الله دغه روايت داسي تفسيروي: زموږ بازارونو ته مالونه راوړونکي د الله جَلَّ جَلَالُهُ له رحمت او د تجارت له برکته برخمن دي او زموږ له بازارونو د ګرانېدو په نيت د اموالو ذخيره کوونکي د لعنت او مسکنت سره مخ دي. نو تاجر مسؤليت لري چي د خپلو شخصي ګټو او منافو له پاره په احتکار لاس پوري نه کړي، خو که احياناً يو کس د داسي کړني مرتکب سي، دولت مسؤليت لري، چي د نوموړي دا ډول عمل جرم وګڼي او مجازات يې کړي.

# پــایــله

تجارت په انساني ژوند کې ډېره اوږده مخينه لري او د انسانانو تر منځ يې له ډېر پخوا راهيسي رواج درلود، ځکه چې انسان نسي کولای چې خپلې ټولې اړتياوې په يوازې ځان رفع کړي، نو اړ دئ چې له نورو سره د اجناسو د راکړې ورکړې په تړاو اړيکې ټينګې کړي. تجارت عربي کلمه ده چې په لغت کې ګټې ته وايي او په اصطلاح کې د کسب او پېشې په شکل د ګټې تر لاسه کولو په موخه د منقول اموالو دومدار رانيول او خرخول تجارت بلل کيږي. همدا راز، تاجر مو وپېژندی چې هر هغه حقيقي يا حکمي شخص چې اهليت ولري يوه يا څو تجارتي معاملې اجراء کړي او پر بنسټ يې ګټه لاسته راوړي، تاجر بلل کيږي. د دې ترڅنګ په اسلامي شريعت کې مو د تاجر مسؤليتونه مطالعه کړل چې د تاجر له لوري د نېک نيت لرل، بازار ته د داخلېدو پر مهال مسنون اذکار ويل، له مشتريانو سره نرم چلند او ښه سلوک کول، امانتداري او صادقه اوسېدل، پر خپلو کړو ژمنو وفاء کول، په وزن او اندازه کې عدل او انصاف کول، د مشتري د پښېمانتيا په صورت کې د مبيعې بېرته قبلول، د مشتريانو په وړاندې له دوکې او غبن څخه ډډه کول، د رانيولو او خرڅولو پر مهال له قسمونو څخه ډډه کول، له احتکار څخه ډډه کول او داسې نور په اسلامي شريعت کې د تاجر مسؤليتونه ګڼل کيږي.

په هر صورت؛ دا لاندې وړانديزونه کيږي:

۱- يو تاجر بايد يوازې هغه تجارتي معاملات ترسره کړي، کوم چې په اسلامي شريعت کې جائز ګڼل سوي دي او له هر ډول سودي او حرامو معاملاتو څخه بايد ځان وساتي، ځکه الله ﷻ هر ډول ربا/ سود حرام کړی دئ.

۲- تاجر بايد امانتداري، رښتينولي او صداقت د خپل تجارت له پاره معيار وټاکي او له هر ډول چم، فرېب او دوکې څخه ډډه وکړي، ځکه رسول الله ﷺ فرېبکاره اشخاص د خپل اُمت څخه نه ګڼي.

۳- تاجر بايد له هر ډول احتکار څخه ځان وساتي، ځکه احتکار اسلامي شريعت جرم ګڼلی دئ.

۴- دا چې تجارت له يوه لوري يو سپېڅلی مسلک او د ټولنې د اړتياوو پوره کوونکی دئ، او هم له بله لوري د عوايدو لاسته راوړنې ښه سرچينه ده، ځکه نو يو تاجر بايد د راکړې ورکړې او تجارت پر مهال ټول اسلامي او قانوني اوامر رعايت کړي، تر څو د دنيا او اخرت برياوې ترلاسه کړي.

## اخځلیکونه

القران الكريم.

البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري(ب.ت). صحيح البخاري، أبو عبد الله موقع وزارة الأوقاف المصرية.

الترمذي، محمد بن عيسى (۱۴۳۹هق). سنن ا لتر مذي، المكتبة المعارف – الرياض.

ابی داود سليمان بن الأشعث بن شداد بن عمرو، الأزدي أبو داود (ب.ت). سنن أبی داود، موقعوزارة الأوقاف المصرية

أبو عبدالله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني ،الفقيه والمحدث، صاحب المذهب (ب.ت). مسند أحمد، موقع وزارة الأوقاف المصرية.

البيهقي، احمد بن الحسين بن علي البيهقي (ب.ت). السنن الكبرى، دارالفكر.

ابن ماجه، محمد بن يزيد القزويني، تحقيق محمد فؤاد عبدالباقي (ب.ت). سنن ابن ماجه، دار الحديث، القاهرة.

اڅکزی، عبدالرحمن (۱۴۰۰ل). جزا عمومي حقوق، دوهم ټوک، ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه –کندهار.

- آن لاین اسلامي لارښود (ب، ت). د معاملاتو شرعي بنسټونه. www.dawat610.com .

بېلابېل لیکوالان(۱۳۹۳ل).کوچنۍ سوداګري، ضیاء الرحمن، ضیاء، خپرندوی – د ملي تحریک فرهنګي ځانګه.

حمیدي، حزب الله (۱۳۹۵ل). د تجارت حقوق، کابل، مستقبل خپرندویه ټولنه.

ستانګزی، نصرالله و ناصح ولي محمد (۱۳۹۰ل). حقوق تجارت، انتشارات سعید –کابل.

صدیقي، ندا محمد (۱۳۹۵ل). د اسلام اخلاقي نظام، عرفان خپرندویه ټولنه –کندهار.

فاطمي، سید احمد (۱۳۹۷ل). د اسلام اخلاقي نظام، ننګرهار پوهنتون – اسلامي ثقافت څانګه.

لدهیانوی، محمد یوسف (۱۳۹۴ل).کاروباري مسایل او اسلامي حل لاري، ژ: فیاض حمید، د افغانستان اسلامي تحریک، ۹۹ مخ).

نیازی، مصطفی (۱۳۹۰ل). د تجارت حقوق، حکمت خپرندویه ټولنه – جلال آباد.

نجیمی، بشیرالله (۱۳۸۸ل). د معاصر اسلامي اقتصاد پېژندنه، د القلم د ژباړي او څېړني خپرندویه اداره.

ناصري، عبدالحی (۱۳۹۲ل). د تجارت حقوق، ژ: محمد اشرف وحدت، د تخنیکي او مسلکي زده کړو معنیت –کابل.

Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# The Distinct Traits and Responsibilities of a Merchant in Islamic Sharia

Abdulrahman Achakzai
Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Malalai Institute of Higher Education
Corresponding author Email: lawyerabdullrahman@gmail.com

## Abstract

In legal terms, trade refers to the continuous purchase and sale of movable goods with the intent of earning profit as a profession. According to Islamic Sharia and statutory law, every individual holds the right to engage in trade; however, this right is conditional and bounded by ethical and religious guidelines. Trade is recognized as an honorable profession, and when conducted in accordance with the principles of Islamic Sharia, it is highly esteemed, being considered a source of both worldly sustenance and spiritual reward.

This study, conducted through a library-based and descriptive research methodology, seeks to identify the specific qualities and responsibilities that Islamic Sharia prescribes for merchants. It emphasizes the significance of adhering to these responsibilities in order to ensure the integrity and stability of the commercial system within an Islamic framework. The findings clearly outline the traits and obligations expected of a merchant, including sincerity of intention, recitation of recommended supplications upon entering the market, kindness and ethical conduct, honesty, trustworthiness, fulfillment of commitments, fairness in weights and measures, acceptance of returned goods in genuine cases, avoidance of fraud and deceit, refraining from false oaths, abstaining from hoarding, and full disclosure of product defects. Adherence to these responsibilities not only nurtures a sound and trustworthy trading environment but also contributes to the growth and sustainability of the Islamic economic system.

**Keywords:** Merchant, Islamic Sharia, Ethical Traits, Commercial Responsibilities, Islamic Economy

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:1 Issue: 2 Year:2025**